د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۹/ شوال المکرم /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۷/ حمل/۱۴۰۵هـ، ش**

# د اسلامي هيواد دفاع او د شرعي نظام د حاکميت ساتنه

الحَمْدُ للهِ الكَرِيمِ المَنَّانِ، الذِي مَنَّ عَلَينَا بِنِعْمَةِ الإِيمَانِ، وَالأَمْنِ فِي الأَوطَانِ، وَالعَافِيَةِ فِي الأَبْدَانِ، فقال تعالى: (فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ، الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ)قريش: (۳) و الزم الحماية عن الاوطان واوجب الحفاظ عن الشريعة

وَأَشْهَدُ أَن لاَّ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، وَصَفِيُّهُ مِنْ خَلْقِهِ وَخَلِيلُهُ، سَأَلَ رَبَّهُ الأَمْنَ فِي الوَطَنِ، وَدَفْعَ الفِتَنِ وَالمِحَنِ، مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، اللهم صل علي سيدنا محمد وعلي آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا إلي يوم الدين.

أَمَّا بَعْـــدُ: قال الله سـبحانه وتعالى:(فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ).البقرة:(١٩٤)

**درنو او عزتمنو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

اسـلامي هيواد د مسـلمانانو اسلامي او سپيڅلی حريم دی ، چې په اسلامي هيواد کې زمونږ مسجدونه، مدرسې، پوهنتونونه، جامعات ، دارالحفاظونه شفاخانې موجود دي او هيواد زمونږ او زمونږ د اولادونو، پلرونو، خپلو خپلوانو، علماوو د اوسيدوځای دی. اسلامي هيواد د شرعي نظام د حاکميت او تطبيق ځای دی، اسلامي هيواد د مسلمانانو د اسلامي شعائرو د ظاهرولو او د عباداتو داداء کولو ځای دی.

داچې په اسـلامي هيواد کې زمونږ مقدسـات او ارزښتونه موجود دي او څوک چې زمونږ پر مقدساتو او ارزښتونو تيری او تجاوز کوي د هغوی مقابله کول او د هغه دفع کول پر مونږ داسـې واجب ده؛ لکه څرنګه چې د ځان ، مال، عزت او آبرو څخه دفاع واجب ده.

که چيرې مونږ د اسلامي هيواد څخه دفاع ونکړو ، نو زمونږ شرعي نظام به –خدای مه کړه- رنګ شي، حريم به مو اشغال شي، مقدسات به مو تخريب شي او د ژوند اساسات به مو له منځه ولاړشي، چې ددې ټولو شيانو حفاظت پر مونږ واجب دی.

الله تعالی فرمايلي دي:(وَلَوْلا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ).الحج:(٤٠)

ترجمه: او که چیري نه وي دفع کول د الله خلقو لره ځینې د دوی لره په ځینو نورو باندې خامخا نړولې شـوې به وې صـومعی او کلیساگانی او د یهودانو عبادتخانی او مسجدونه چې یاداوه شي په هغو کې نوم د الله ډېر او خامخا مرسته به وکړي هرومرو الله له هغه چا سره چې مرسته کوي (دین د) دغه (الله) سره بېشکه چې الله خامخا قوي (د خپلو احکامو په تنفیذولو کې) ډېر زور والا دی (په هر چا).

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:(وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَـهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَـدَتِ الْأَرْضُ وَلَكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْـلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ)البقره: (۲۵۱)

ترجمه: او که چیرې نه وي دفع (منع) کول د الله خلقو لره ځینو د دوی لره په ځینو نورو سره (نو) خامخا به خرابه شوې وه ځمکه ولیکن الله څښتن (خاوند) د فضل (احسان) دی په خلقو باندې (نو ځینې په ځینو نورو سره له فساد څخه منع کوي).

**توضیح:** امام ماتریدي رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي:(که چیرې د ځینو خلکو مخه په ځینو نورو الله تعالی ونه نیسي ،نو یو بل به ووژني او یوه ډله به بله ډله له منځه یوسي ، چې په دې کار سره به دوی له نړۍ فاني شي او فاسد به شي چې دا کار بیا د ځمکې فساد دی).تأویلات أهل السنة (۲ /۲۳۱)

امام ماوردي لیکي:( په دفع کولو کې دوه توجیه موجودې دي: د نیک عمله څخه په فاجر سره هلاکت دفع کوي.

په مجاهدینو سره د ناسټو خلکو څخه فساد او هلاکت دفع کوي. که چیرې دا کار الله تعالی نه وی کړی، نو د ځمکې خلک به هلاک شوي ؤ او په ځمکه کې به فساد زیات شوی ؤ ، چې هغه کفر او قتل دی). النکت والعیون (۱ /۳۲۱)

که چیرې ټول خلک په اتفاق سره د باطل د دفع کولو څخه کیني ، نو قوي خلک به مستضعفین له منځه یوسي؛ مگر(الله تعالی) ځینې خلک یې په ځینو نورو دفع کړي دي ترڅو په خپلو منځونو کې مشغوله وي او کمزوري قوم یې له شر څخه په امن کې وي. تفسیر القشیري (۱/ ۲٤۱)

په پورتني مبارک آیت کې د جائزې جگړې په اړه ترغیب پروت دی او الله تعالی په تیرو ټولو امتونو کې دا سنت جاري ساتلي ؤ، ترڅو د ژوند چارې منظمې وي او شرائع حاکم وي او عبادت گاوې د تخریب څخه مصئونې وي او خلک د مرگ څخه مصئون وي.تفسیر البحر المحیط (٦ /۲۷۱)

همدارنگ د اسلامي هیواد ددفاع له برکته په هیواد کې امن او امان قائمیږي. هغه امن او امان چې د هغې لپاره زیات زحمتونه گالل کیږي او زیات لگښتونه ترسره کیږي ، مگر د هیواد امنیت په مالونو او پیسو نه اخیستل کیږي ، بلکې دا په جهاد سره او د الله تعالی په خاص فضل سره ترلاسه کیږي. الله تعالی فرمایلي دي:(فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ* الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ)قریش:(۳)

ترجمه: نو ښایي چې بندگي وکړي دوی رب د دې کوټې (کعبې) ته هغه (رب) چې طعام خواړه یې ورکړي دي دوی ته په لوږې کې او امن یې ورکړی دی دوی ته له خوف وېرې څخه.

په هیواد کې د امنیت له برکته مسجدونه آبادیږي او هر لورې ته خیر خپریږي او د وینو توئیدو مخه نیول کیږي او د عزتونو او مالونو حفاظت کیږي او د ژوند په هره برخه کې پرمختگونه رامنځ ته کیږي.

کله چې په هیواد کې امنیت نه وي ، نو هیواد د هرج او مرج سره مخ کیږي او کله چې امنیت له منځه لاړشي، نو ځای یې ویره او خوف نیسي او فقر هم ورسره یوځای کیږي. فقر او خوف دواړه د الله تعالی سخت عذابونه دي، چې د گناهونو په وجه په خلکو باندې مسلط کیږي: الله تعالی فرمایلي دي:(فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ).النحل:(۱۱۲)
ترجمه: نو وڅکاوه په (اهل د) دې باندې الله کالي (کپړې) د لوږې او وېرې) چې لوږه او وېره یې پرې لازمه او محیطه وگرځوله لکه جامه) په سبب د هغو (عملو) چې وو دوی چې کول به یې.
بالمقابل امنیت او امن د الله تعالی هغه خوندور نعمت دی چې الله تعالی به یې د جنتیانو په برخه کوي. الله تعالی فرمایلي دي:(وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ)سبأ: (۳۷)
ترجمه:او دوی به په ماڼیو کې(د جنت کې مطمئن)مامون وي (له هر آفته).
که چیرې څوک په اسلامي هیواد تجاوز وکړي او یا د اسلامي هیواد پر حریم د دشمن له خوا د تجاوز د ویره موجود وي، نو بیا داسلامي هیواد څخه دفاع کول په هر فرد واجب دي. الله تعالی فرمایلي دي ( فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ).البقرة:(۱۹٤)

ترجمه: پس هر چا چې تېری وکړ پر تاسې باندې نو تاسې هم تېرئ کوئ په هغوی باندې په شان د هغه چې تېری یې کړی وو پر تاسې باندې او وویرېږئ له الله څخه او پوه شئ چې بېشکه الله له پرهیزگارانو سره دی (په علم او نصرت سره).

په دې مبارک آیت کې د { فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ} څخه مراد مقابله، مبارزه او معاقبه مرادده.تفسیر ابن کثیر (۱ /۲۸۳)

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: ( وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُواْ بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرينَ * وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلاَّ بِاللّهِ وَلاَ تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلاَ تَكُ فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ)النحل:(۱۲۷)
ترجمه:او که عذابوئ تاسې (څوک) نو عذاب ورکوئ په شان د هغه عذاب سره چې عذاب کړی شوي یئ تاسې په هغه سره او خامخا قسم دی که صبر وکړ تاسې نو خامخا دغه (صبر) خیر (غوره) دی (له انتقامه) صابرانو ته.
امام ابواللیث سمرقندي ددې آیت څخه وروسته لیکي: دا آیت حکم شو په حق د ټولو جنایاتو کې ، څوک چې تیری او تجاوز وکړي په انسان باندې یا د هغه په مال باندې ، نو هغه ته دا جائز دي چې هغه ته بالمثل مجازات ورکړي. بحر العلوم(۱ /۱۵۵)
همد اراز که څوک زمونږ پر هیواد نظامي تیری وکړي ، نو پر مونږ باندې د خپل اسلامي هیواد ددفاع په موخه جهاد فرض دی. الله تعالی فرمایلي دي:( وَقَاتِلُواْ فِي سَبِيلِ الله الذين يُقَاتِلُونَكُمْ ) [ البقرة :(۱۹۰)
ترجمه: او جنگ کوئ (ای مؤمنانو) په لاره دالله کې له هغو کسانو سره چې جنگ کوي له تاسې سره.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ ». صحیح مسلم (٦ /۲۳)
ژباړه: د حضرت عرفجه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل: څوک چې تاسې ته راشي او ستاسې کار راټول وي په یو شخص باندې او هغه راتلونکی سړی غواړي چې ستاسې امسا ماته کړي او یا ستاسې په ټولي کې تفرقه واچوي، نو هغه ووژنئ.د اسلامي هیواد څخه دفاع په حقیقت کې د مظلومانو څخه دفاع ده.

که چیرې په اســلامي هیواد کوم متجاوز تجاوز وکړي ، نو د هغه هیواد خلک مظلوم دي او باید خللک د ظالم په مقابل کې ودریږي او دځان او مال څخه دفاع وکړي .

الله تعالی فرمایلي دي:(أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُواْ وَإِنَّ الله على نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ). الحج :( ٣٩).

ترجمه: حکم ورکړی شوی دی (د قتال) هغو کسانو ته چې قتال ورسره کاوه شي (د کفارو له خوا) په دې سبب چې ښشکه په دوی ظلم شوی دی.

د متجاوز د ظلم دفع کول د مســلمان مشــروع حق دی. کله چې په اســلامي هیواد باندې څوک تیری او تجاوز وکړي ، نو د اسلامي هیواد څخه دظلم دفع کول د مسلمانانو لپاره مشروع حق دی، بلکې د اسلامي هیواد په خلکو باندې فرض دي چې د ظالم مخنیوی وکړي او مسلمانان د ظالم له ظلم څخه وژغوري.

د ځان څخه دفاع واجب ده، حتی چې که چیرې نور مسلمانان د ظالم د ظلم لاندې واقع شي ، په نورو خلکو د ظالم د ظلم دفع کول هم فرض دي. په حدیث شریف کې راځي:« الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ» متفق علیه

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به ورباندې ظلم کوي او نه به يې ظالم یا دښمن ته سپاري.

امام سرخسي رحمه الله لیکلي دي:(والذين وقع الظهور عليهم صاروا مظلومين، ويفترض على المسلمين دفع الظلم عن المظلوم والاخذ على يد الظالم.قال عليه السلام: «لَا، حَتَّى تَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْ الظَّالِمِ، فَتَأْطِرُوهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا ». السير الكبير (١ /٢٠٨) والحديث اخرجه ابن ماجه في سننه ت الأرنؤوط(٥ /١٤١)

ژباړه: او هغه خلک چې د دښـمن د غلبې لاندې واقع شـي ، نو دوی مظلوم وګرځیدل او په مسلمانانو فرض دي دفع د ظلم د مظلوم نه او نیول لاس د ظالم . نبي علیه السلام فرمایلي دي: نه ! (تاسې به د عذاب څخه خلاص نشی) ترڅو چې ونیسي دواړه لاسونه د ظالم او هغه مجبوره کړی حق ته په مجبورولو سره.

په دې بابله دقیق ترین عبارت هغه دی چې امام ابن عابدین رحمه الله ذکر کړی دی:(وحاصله أن كل موضع خيف هجوم العدو منه فرض على الإمام أو على أهل ذلك الموضـع حفظه وإن لم يقدروا فرض على الأقرب إليهم إعانتهم إلى حصـول الكفاية بمقاومة العدو). رد المحتار(١٥ /٤١٤)

ژباړه:او حاصل د مطلب دادی چې په هر ځای چې ویره د هجوم د دښمن موجود وي په امام فرض دي او یا د هغه ځای پر خلکو فرض دي ساتل د هغه ځای که چیري د هغه ځای خلک په دې قادر نه وي نو فرض دی هغه ځای په خلکو چې ورته نږدې وي د هغه مرسته تر څو ضرورت پوره شی د دښمن د مقابلی لپاره.

د جهاد فسلفه او حکمت د مظلومانو څخه دفاع کول دي.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَمَا لَكُمْ لاَ تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاء وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا) النساء:(٧٥)

ترجمه: او څه شوي دی پر تاسې چې جنګ نه کوئ تاسې په لاره د الله کې (د دین د ترقۍ لپاره) او په (خلاصولو) د ضعیفانو کې چې سړي دي او ښځې دي او هلکان دي هغه کسان چې وایي دوی ای ربه زمونږه ! وباسه مونږه له دې کلي (د مکې) څخه چې ظالمان دي اوسېدونکي د هغې او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم ولي (حامي ساتونکی) او وګرځوه مونږ ته له خپله درباره کوم مدد ګار!

په یو بل مبارک آیت کې راځي:( فَلا عُدْوَانَ إِلا عَلَى الظَّالِمِينَ).البقرة:(١٩٣)

ترجمه:نو نشته هیڅ تېری مګر خو شته جزا د ظلم پر ظالمانو باندې.

د اسلامي هیواد دفاع په حقیقت کې د خپل ځان، مال، عزت او آبرو څخه دفاع ده او اسلامي هیواد زمونږ تر ټولو غوره مال دی.

داسلامي هيواد بنستيز او عامه تأسياستو باندې حمله كول داهم زمونږ په مشترک مال باندې تجاوز دی ، چې دفاع يې پر مونږ ټولو فرض ده. او څوک چې د مال په دفاع کې مړشي شهيد دی. په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:« مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ» صحيح البخاري ت (٦ /٣٠٠)ژباړه: څوک چې د خپل مال په دفاع کې مړ شو، نو هغه شهيد دی.

ښکاره خبره ده چې بل هيواد زمونږ په هيواد تيری او تجاوز وکړي ، دا په حقيقت کې زمونږ په ځان ، نفس او اهل باندې تجاوز او تيری کول، ځکه چې دشمن هر هغه کس په نښه کوي چې د هيواد په محدوده کې اوسيږي. نو دا داسې ده لکه چې زمونږ په ذات چې تيری کوي او دځان په دفاع کې مرگ، د شهادت مرگ دی. نبي عليه السلام فرمايلي دي: « وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ» سنن الترمذي ت شاكر (٤ /٣٠)

ژباړه: او څوک چې د خپل دين ددفاع په لار کې مړ شو، هغه شهيد دی او څوک چې د خپلې وينې ددفاع په لار کې مړ شو، نو هغه شهيد دی او څوک چې د خپل اهل ددفاع په لار کې مړ شو ، هغه شهيد دی.

هرکله چې څوک د چا د مال غلا کول غواړي نو پر هغه د غل ســره مقابله کول واجب ده ، نو څوک چې د هيواد غلا کول او ختمول غواړي د هغه سره مقابله په طريق اولی سره واجب ده.

ابوبکر جصاص رحمه الله فرمايي:(لا نعلم خلافا أن رجلا لو شهر سيفا على رجل ليقتله بغير حق أن على المسلمين قتله). أحكام القرآن ( ٢٤٠٢/١)

ژباړه: زه په دې کې اختلاف نه وينم که چيرې يوسړی په بل سړي باندې توره راوباسي ددې لپاره چې وه يې وژني په ناحقه سره، په مسلمانانو لازم دي وژل دده.

د وطن ددفاع په موخه په لومړي خط کې شپه په ويښه او پهره کې تيرول جهاددی. په حديث شريف کې راځي: «رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا» صحيح البخاري (٤ /٣٥)

ژباړه: (د دښمن) په لومړي خط کې دالله تعالی په لار کې يوه شپه په ويښه تيرول غوره ده ددنيا څخه او هغه څه چې په دنيا کې دي.

**د شرعي نظام د حاکميت ساتنه:**

لکه څرنگه چې د شرعي نظام حاکميت په مسلمانانو فرض دی ، دا رنگه دشرعي نظام د حاکميت څخه دفاع او ساتنه هم پر مسلمانانو فرض ده.

الله تعالی فرمايلي دي:( الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ). الحج:(٤١ )

ترجمه: دغه مهاجرين مظلومان هغه کسان دي چې که چيرې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کې (په دښمن باندې د غلبې په اعتبار) نو قائموي دوی (سم اداء کوي به سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي به زکات او امر حکم به کوي (خلقو ته) په معروف (په نيک شرعي کار) سره او منع کوي به خلق له بد کار څخه او خاص د الله په اختيار کې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو.

مفسرين وايي په دې آيت مبارکه کې اخيستل د عهد دي له هغه چا څخه چې الله تعالی ورته په ځمکه کې تمکين ورکړی وي، چې هغه کارونه به کوي کوم چې په دې مبارک آيت کې ذکر شوي دي .تفسير البحر المحيط (٦ /٢٧٣)

د شرعي نظام د حاکميت ساتنه په دې کيږي ، چې شرعي نظام په ځان عملي کړو او د شرعي نظام حکمونو او اوامرو ته غاړه کيږدو.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(فَلا وَرَبِّكَ لا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيما)النساء:(٦٥)

ترجمه: پس قسم دى په رب ستا چې نه مؤمنان کېږي دوى تر هغه پورې چې فيصله کوونکي او حکم کړي دوى تا په هغه جګړه کې چې پېښه شوې ده په منځ د دوى کې بيا ونه مومي دوى په نفسونو خپلو کې خپګان له هغه شي چې حکم (فيصله)کړې وه تا او ويې مني دوى په منلو سره بې له جګړې په خوښۍ سره.

الله تعالى خپل حبيب ته فرمايلي دي چې ددوى ترمنځ د الله تعالى په کتاب فيصله وکړه او ددوى د نفسي خواهشاتو پيروي مه کوه.(وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ).المائدة: (٤٩)

ترجمه: او (ته لېږلى يې مونږ او دغه حکم مو فرمايلى دى تا ته) چې حکم کوه په منځ د دوى کې په هغه شـي چې نازل کړى (لېږلى) دى الله او مه کوه متابعت د خواهشاتو د دوى .

دالمائدې په سـورت کې الله تعالى فرمايلي دي چې څوک په هغه څه فيصـله نه کوي چې الله تعالى نازل کړي دي، نو دوى کافران دي که چيرې ورڅخه منکر وي او څوک چې دالله تعالى په حکمونو فيصلې نه کوي هغوى ظالمان او فاسقان دي.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ) المائدة:(٤٤)

ترجمه: او هر چاچې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړى (لېږلى) دى الله نو دغه کسان هم دوى دي کافران.

په بل آيت کې فرمايي:(وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ) المائدة:(٤٥)

ترجمه: او هر چا چې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړى (لېږلى دى) الله نو دغه کسان هم دوى دي ظالمان.

په بل مبارک آيت کې فرمايي:(وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ)المائدة:(٤٧)

ترجمه:او هر چا چې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړى دى الله نو دغه کسان هم دوى دي فاسقان.

په يو روايت کې راځي نبي عليه السلام فرمايلي دي:«مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ عَصَى اللَّهَ» مسند احمد( ٢٥٢/٢)

ژباړه: چاچې زما اطاعت وکړ، نو ده بيشـــکه د الله تعالى اطاعت وکړ او چاچې زما نافرماني وکړه، نو بيشـــکه هغه دالله تعالى نافرماني وکړه.

په يو بل روايت کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ،عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ».شرح السنة للبغوي (١ /٢١٢) قال النووي: حديث حسن صحيح. شرح الأربعين - ابن دقيق العيد (ص: ١٠٧)

ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص د نبي عليه السلام څخه روايت کوي، چې نبي عليه السلام وفرمايل: پوره مؤمن کيداى نشي يو د ستاسې تر هغې پورې چې د هغه نفس تابع نشي د هغه څه چې زه ور باندې راغلى يم.د الله تعالى شريعت د پنځو خبرو د حفاظت لپاره راغلى دى چې هغه حفاظت ددين دى، حفاظت د نفس دى، حفاظت د عرض او عزت دى، حفاظت د عقل دى او حفاظت د مال دى. او ددغو پنځو اصولو ساتنه دشرعي نظام د حاکميت ساتنه ده.

د شرعي نظام د حاکميت ساتنه، دشرعي نظام د حاکم په اطاعت کې ده.

د شرعي حاکم اطاعت واجب دى او د شرعي حاکم څخه بغاوت او سرغړونه لويه ګناه ده.الله تعال فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخر).النساء:(٥٩)

ترجمه: اې هغو کسـانو چې ايمان يې راوړى دى (اې مؤمنانو!) حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسول د الله او حکم ومنئ د خاوندانو د حکم له تاسې (مسلمانانو يعنې حاکمانو او مشرانو!).نو بيا که خلاف مو پيدا شـو په يوه شي کې نو

وگرځوئ تاسې (فیصله ددی کار) طرف د الله ته ( د الله کتاب ته) او رسول ته (د رسول الله حدیث ته) که یئ تاسې چې(په اخلاص سره) ایمان لرئ تاسې په الله او په ورځې آخرې (قیامت) باندې.

په یو حدیث شریف کې راځي نبي علیه السلام فرمایلي دي:(مَنْ أَطَاعَ أَمِيرِي فَقَدْ أَطَاعَنِي وَمَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ). مسند أحمد(١٢ /٢٨٦)

ژباړه: چاچې زما د امیر اطاعت وکړ، نو هغه زما اطاعت وکړ او چاچې زما اطاعت وکړ، نو هغه د الله جل جلاله اطاعت وکړ.

دشرعي حاکم د اطاعت څخه سرغړونه بغاوت دی او د باغي سزا مرگ دی.په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَرْفَجَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَنْ أَتَاكُمْ وَأَمْرُكُمْ جَمِيعٌ عَلَى رَجُلٍ وَاحِدٍ يُرِيدُ أَنْ يَشُقَّ عَصَاكُمْ أَوْ يُفَرِّقَ جَمَاعَتَكُمْ فَاقْتُلُوهُ ». صحيح مسلم (٦ /٢٣)

ژباړه: د حضرت عرفجه رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل: څوک چې تاسې ته راشي او ستاسې کار راټول وي په یو سړي باندې او هغه راتلونکی سړی غواړي چې ستاسې امسا ماته کړي او یا ستاسې په ټولي کې تفرقه واچوي، نو هغه ووژنئ.

امام سرخسي رحمه الله لیکلي دي:(فإن كان المسلمون مجتمعين على واحد وكانوا آمنين به والسبيل آمنة فخرج عليه طائفة من المسلمين فحينئذ يجب على من يقوى على القتال أن يقاتل مع إمام المسلمين الخارجين لقوله تعالى { فإن بغت إحداهما على الأخرى فقاتلوا التي تبغي } ( الحجرات : ٩ ) والأمر حقيقة للوجوب ولأن الخارجين قصدوا أذى المسلمين وإماطة الأذى من أبواب الدين وخروجهم معصية ففي القيام بقتالهم نهي عن المنكر وهو فرض ولأنهم يهيجون الفتنة قال - صلى الله عليه و سلم - ( الفتنة نائمة لعن الله من أيقظها ) فمن كان ملعونا على لسان صاحب الشرع - صلوات الله عليه - يقاتل معه). المبسوط (٦ / ١٣٨)

ژباړه: کله چې مسلمانان په یو کس (امیر) باندې راټول وي او د هغه په شتون سره په امن کې وي او لارې هم په امن کې وي او بیا د هغه په مقابل کې د مسلمانانو یوې ډلې خروج وکړ، نو په دغه وخت کې په هغه چا واجب دي چې په جنگ کې تکړه وي چې د امام سره د خوارجو په مقابل کې جگړه وکړي ، ځکه الله تعالی فرمایلي دي:( که چیرې یوې ډلې بغاوت وکړ په بلې ډلې باندې، نو جگړه وکړئ له هغه ډلې سره چې بغاوت کوي) او دا امر د وجوب لپاره دی. بل داچې د خارجیانو قصد خلکو ته تکلیف رسول دي او دلارې څخه اذیت کوونکي شیان لری کول ددین له بابونو څخه دي. او د مسلمانانو خروج معصیت دی او ددوی سره جگړه کولو کې د منکر څخه نهی ده چې دا کار فرض دی، بل داچې دا خارجیان فتنه راپورته کوي ، نبي علیه السلام فرمایلي دي( فتنه ویده ده، لعنت دې وي په هغه چا چې را پورته یې کړه) ، نو څوک چې د صاحب د شریعت -صلوات الله علیه- په ژبه ملعون وي ، نو د هغه سره به جگړه کیږي.

د شرعي حاکم په مقابل کې خروج په مسلح خروج پورې محصور نه دی، بلکې د خروج ټولو ډولونو ته شامل دی لکه په شرعي نظام پسې مسخرې کول، د شرعي حاکم نظام په خلاف ناوړه تبلیغات کول، په شرعي حاکم او امیر پسې پروپاگند کول او دهغه فیصلې سپکې او بابیزه گڼل. الله تعالی داسې کسانو ته په ژوند کې د سپکاوي وعده ورکړی ده .

په یو روایت کې راځي:(خَرَجَ ابْنُ عَامِرٍ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ وَعَلَيْهِ ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَقَالَ أَبُو بِلَالٍ: انْظُرُوا إِلَى أَمِيرِكُمْ يَلْبَسُ لِبَاسَ الْفُسَّاقِ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ مِنْ تَحْتِ الْمِنْبَرِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ أَهَانَ سُلْطَانَ اللَّهِ أَهَانَهُ اللَّهُ» مسند أبي داود الطيالسي (٢ /٢١٠)، سنن الترمذي(٤ /٥٠٢)

ژباړه: عبدالله بن عامر رحمه الله راووتلو(له کوره) او منبر ته پورته شو، په داسې حال کې چې په تن یې نازکه جامې وې، نو ابو بلال وویل: خپل امیر ته مو وګورئ د فاسقانو جامې اغوندي. ابوبکرة رضي الله عنه ورته د منبر د لاندې وویل: ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: څوک چې سپکاوی وکړي د الله تعالی د بادشاه ، الله تعالی به هغه کس سپک کړي.

د شرعي نظام د حاکمیت ساتنه په جهاد سره کیږي. په اسلام کې جهاد ددې لپاره فرض شوی دی چې د شرعي نظام د حاکمیت څخه ساتنه او حفاظت وکړي.

الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لاَ تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلّه).الانفال:(٣٩)

ترجمه:او وجنګېږئ (ای مؤمنانو!) له دغو (کفارو) سره تر هغه پورې چې نشي پاتې فتنه (فساد په ځمکه کې) او شي دين (حکم) ټول خاص الله لره.

د بدر په غزا کې د ملائکو د نازلیدو او دجهاد په هلکه الله تعالی فرمایلي دي:(وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُواْ السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ).التوبة:(٤٠)

ترجمه:او وګرځوله الله کمله دهغوکسانو چې کافران شوي دي (چې شرک یا دکفر دعوت دی) ښکته او کلمه د الله (توحید او د اسلام دعوت) همدغه ده لوړه غالبه (همیشه ) او الله ښه غالب قوي دی (داحکامو په انفاذ) ښه حکمت والا(چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي).

د الله تعالی د کلمې له لوړوالي څخه مراد د الله تعالی د کتاب او دهغه  د رسول د سنتو حاکمیت دی، د شرعي نظام د حاکمیت معنا افاده کوي.

د همدې وجی نه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو کفارو د وژلو امر کړی ؤ،  چې دښمنان به یې د مسلمانانو پر ضد راپارل لکه کعب بن اشرف او ابن أبي الحقيق لعنهم الله.

همداراز نبي علیه السلام د جګړې د لومړیو کرښو دحفاظت په اړه امر کړی دی او د لومړیو کرښو د ساتلو په باره کې یې زیات فضائل بیان کړي دي.په یو حدیث شریف کې راځي: ( رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ خَيْرٌ مِنْ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا ) البخاري (٢٦٧٨) .

ژباړه: دجګړې په لومړی کرښه کې یوه ورځ آس تړل یا شپه په ویښه تیرول ددنیا او څه چې په دنیا کې دي  دټولو څخه غوره ده.

په الموسوعه الفقهیه کې راځي: (وَإِنَّمَا فُرِضَ لإِعْزَازِ دِينِ اللَّهِ ، وَدَفْعِ الشَّرِّ عَنِ الْعِبَادِ).الموسوعة الفقهية الكويتية (٦/ ١٣٠)

ژباړه: او بیشکه فرض شوی دی(جهاد) د الله تعالی ددین داعزاز لپاره او د بندګانو څخه دشر ددفع کولو لپاره.

**اللهم اكفنا شر الأشرار وكيد الفجار وطوارق الليل والنهار إلا طارقا يطرق بخير يا رحمن.**

**اللهم آمين والحمد لله رب العالمين .**